AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اځر ۲۰۲۳/۰۹/۰۹

# غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(شپږمه برخه)



(کلکانی حبیب الله، نامتو په بچه سقاؤ، د انګرېزي استعمار مزدور.)

## سقاؤ او د انګرېزانو مخامخ او نامخامخ مرستې

انګرېزي استخباراتو، د امان الله پر وړاندې خپلو شومو کړنو ته په پرلهپسې ډول دوام ورکړ، که د هېواد په یوه سیمه کې به بغاوت غلی کړای شو نو انګرېزانو به د خپلو اجنټانو له لارې په بله سیمه کې خپلې نیابتي جګړې پیل کړې، انګرېزي استخباراتو په کابل کې د خپل سفیر، فرانسیس همریز او ډګروال لارنس چې ډېورنډ کرښې ته نږدې ځای پرځای شوی ؤ، وروسته د شینوارو له بغاوت څخه د سقاؤ د زوی بغاوت، د ملایانو او د کابل د شوربازار حضرتانو په وسیله اداره کاوه[1]، هغه مهال د امان الله خان پر خلاف د انګرېز استخباراتو کړنې د نړۍ په مطبوعاتو کې خپریدلې، تر دې چې «د ۱۹۲۸ز، کال د سپتمبر په ۱۳مه نېټه، په لندن کې سنډې ایکسپرس جریده چې د انګلستان د لیبرال ګوند لخوا خپریدله، د انګلستان د هغه مهال د محافظه کار ګوند چې حکومت یې په لاس کې ؤ، یوه مخالفه رسنۍ وه، خبر ورکړ چې لارنس د یوې پټې دندې ترسره کولو په موخه د افغانستان په سرحداتو کې ځای پرځای شوی دی.

---

[1]: په راتلونکو پاڼو کې به ولولئ چې انګرېزي استخباراتو ملایان، پیران او نور مخور کسان چې ځینې یې شعوري او ځینې نور چې له خپل ځانه هم نه وو خبر، په څه ډول تر خپل اغېز لاندې راوستلي او د خپلو ناوړه او کفري اهدافو په موخه استعمالول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د بمبيي ورځپاڼي کرونيکل (د بمبيي پيښي) وليکل:... د شورش يو شمېر چاپي رسالي او اعلاميي، د ملکي ثريا له انځورونه سره د پاچا [امان الله] پر خلاف د قبايلو په منځ کي وېشل شوي دي، شورشيان د انګرېزانو په نويو وسلو او مهماتو سمبال شوي دي.»[2] دا مهال چي له کابله دولتي ځواکونه ننګرهار ته لېږل شوي وو، په کابل کي امنيتي ځواکونه په ډېر لږ شمېر کي پاتي وو، د کابل په شمال کي د انګريزانو له مزدورانو څخه چي تر ټولو خطرناک واقع شو، يو هم حبيب الله د سقاؤ زوی ؤ چي د انګريزانو د استخباراتو له خوا د څو تنو ملايانو او د شور بازار مجدديانو په وسيله د امان الله خان د پرځولو او ترور په موخه هڅول شوی ؤ.
د سقاؤ زوی حبيب الله له آره غل او لاره وهونکی کس ؤ، په کابل کي د هغه مهال د ايران سفير سيد مهدي فرخ، سقاؤ يو باشهامته او شجاع غل بولي هغه ليکي:«حبيب الله د سقاؤ زوی... په لومړيو کي غلاګاني کولي او طبعاً چي يو باشهامته او شجاع شخص ؤ چي څو ځلي حکومت نيولی او زنداني شوی ؤ او له زندانه تښتيدلی هم ؤ... .»[3]

مير غلام محمد غبار د سقاؤ د پېښو په هکله ليکي:«د سقاؤ زوی په لومړيو کي د کلکانو ملک محسن مزدور ؤ، ملک محسن بي سواده او جاهل سړی ؤ او د امير امان الله خان مخالف ؤ، د سقاؤ زوی هم د خپل بادار په شان جاهل او نادان کس ؤ، نوموړي په ۱۹۲۰ ز، کال کي د پوځ د نموني په قطعه (قطعه نمونه) کي عسکر ؤ... سره له دې چي په يوه ښه پوځي قطعه کي عسکر ؤ، له بده مرغه چي د عسکری په دوره کي يي د خپل عادت له مخي غلاګاني هم کولي چي يو ځل د کوهدامن د محلي حکومت له خوا په ۱۹۲۴ ز، کال کي بندي شوی هم ؤ... چي ورو، ورو دغه غل [د انګرېزانو لخوا] په يوه سياسي توطيه‌ګر بدل شو.»[4]

د سقاؤ زوی وروسته له هغي چي د حکومتي ځواکونو سره په يوه جګړه کي ژوبل شو نو له ډيورنډ کرښي واوښت، «يوه ورځ د سقاؤ زوی په خپل حکم سپاهيان له ځان سره ملګري کړل او د افسر نه بې تپوسه يي د پوځي بارک نه بهر بوتلل چي له ټولو سره ټوپکونه هم وو. افسر د پوځ يوه دسته ورپسي واستوله چي لاس تړلي يي بېرته راولي. دغه پوځيان چي ورسېدل نو هغو ته يي ځان ورنکړو، پر يو بل يي ډزې وکړې، يو افسر په يوه ګولۍ ولګېدو او مړ شو. حبيب الله د خپلو ملګرو سره مفرور او په سر يي انعام وټاکل شو.»[5]

په کابل کي ايرانی سفير چي د سقاؤ همعصره ؤ ليکي:«حبيب الله د سقاؤ زوی د دولتي ځواکونو سره په جګړه کي ټپي شو او هندوستان ته وتښتيد.»[6]

کله چي د سقاؤ زوی له کرښي واوښت نو د کورمي په پاړه‌چنار کي يي د چای سماوار کېښود، هغه چي کسب او کار يي غلا کول وو نو په پاړه‌چنار کي پر غلا ونيول شو او [د هغه مهال د انګرېزانو حکومت له خوا] د غلا پر جرم، په يوولسو مياشتو بند محکوم شو خو ډېر ژر په مرموزه توګه، له بنده خوشی شو او افغانستان ته راستون شو، دا هغه وخت ؤ چي د کابل په ختيځ کي د ناآراميو لومړنی مرحلي مخ په پيل کيدو وي.[7]

ليکواله ريه تالي ستيوآرټ او مير غلام محمد غبار د سقاؤ غلاکولو پېښه په پاړه‌چنار کي ليکلي ده خو سيد مهدي فرخ په پيښور کي د سقاؤ د زوی غلا او بندي کيدلو په هکله وايي چي د سقاؤ زوی په پيښور کي د قهوه‌چي په توګه کار پيل کړ خو نوموړی په هغه ځای کي هم د غلاکولو له امله بندي کړای شو چي وروسته په څه طريقي سره له بنده خوشی شو او په کوهستان کي ځواکمن کړای شو... .[8]
په پيښور کي د سقاؤ زوی د جنايي جرم په تور د بندي کيدلو په تړاو په انګرېزي منابعو کي مالومات راغلي دي چي وايي:«په کابل کي د انګريز سفارت شارژدافير په يو تلګرام کي د انګرېزانو د بهرنيو چارو دفتر ته په دې هکله وليکل:«د افغانستان د بهرنيو چارو وزير له ما غوښتنه وکړه چي که چيرې دوه تنه: هر يو اعظم او د سقاؤ زوی وکړای شي هند ته وتښتي بايد تر څارني لاندې ونيول شي. په عين حال کي دغه دوه تنه د [۱۹۲۸ز، کال] د جنوری په مياشت

---

[2]: ډاکټر عبدالرحمن زماني: بازنگری دورهٔ امانی و توطيهٔ های انگليس. ۳۶۳- ۳۶۴مخونه.
[3]: سيد مهدي فرخ: تاريخ سياسي افغانستان.
[4]: مير غلامحمد غبار: افغانستان در مسير تاريخ. ۸۱۵مخ.
[5]: صفيه حليم: د کلکان حبيب الله، له ليکني څخه.
[6]: تاريخ سياسي افغانستان. ۴۸۸مخ
[7]: ريه تالي ستيوآرټ: اور په افغانستان کي ۵۰۵مخ | ميرغلام محمد غبار: افغانستان در مسير تاريخ ۸۲۱مخ.
[8]: تاريخ سياسي افغانستان. ۴۸۸مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

کې په پېښور کې نیول شوي او تر اوسه په بند کې اوسېږي. په ۲۵مه نېټه د بهرنیو چارو مرستیال، سلطان احمد خان د دوی د نیول کېدو په اړه اطلاع ترلاسه کړي ده چې د فریزر تیتلر څخه یې په شفاهي توګه غوښتنه کړې چې هغوی دې افغان مقاماتو ته وسپاري او یا دې په هند کې بندیان کړای شي، [افغان بهرنیو چارو مرستیال] وویل چې په دې تړاو به په رسمي توګه غوښتنه هم وکړي. داسې ښکاري چې هغه [د بهرنیو چارو وزیر] اوسمهال د هغوی د جرمونو د دوسیې په پشپړولو سربېره، په شفاهي توګه ټینګار دا دی چې د هغوی پر بندي کولو او یا له پولې څخه په لیرې استولو بله موخه نه لري، ښکاره ده چې که هغوی له بنده آزاد شي نو د افغانستان حکومت به په قهر شي.[9]
د شمال‌لویدیځ سرحد ایالت عالي کمشنر په دې هکله د مارچ په ۲۴مه نېټه ولیکل: د سرحد د جنايي مقرراتو پر بنسټ، اعظم او د سقاؤ زوی ته امر شوی دی چې د ضامن په پیدا کولو کې کوښښ وکړي، کنه درې کاله به په زندان کې تېر کړي.[10]
ډاکټر عبدالرحمن زماني لیکي:«د افغانستان حکومت د پرلهپسې غوښتنو سربېره، حبیب الله کلکاني او میداني ملګري یې اعظم د ضمانت د نه ورکوله له امله په درو کلونو بند محکوم شوي وو خو نه یوازې چې [د انګرېزانو لخوا] له زندانه آزاد شول، بلکې په پېښور کې د مالګې له منډیې چې هلته د سقاؤ د سماوار هټۍ وه هم تری تم شو او درې میاشتې وروسته یې لومړی په پغمان او بیا په کوهدامن کې بریدونه پیل کړل.»[11]
د نړی په هېوادونو کې له بنده د سیاسي او جنايي محکومینو خوشي کول، یوازې د اړونده هېوادونو د استخباراتو کار دی، تر څو د خپلو موخو ترسره کولو لپاره یې استعمال کړي، په دې بنسټ ویلی شو چې له بنده د سقاؤ زوی خوشې کول، د انګریزانو د استخباراتو لخوا ترسره شوي دي، سقاؤ لا له وړاندې د کابل والي، علي احمد خان لخوا چې شمالي ته له سقاؤ سره د روغې جوړې په موخه لېږل شوی ؤ، په پېښور کې د انګریزي استخباراتو اجنټ، خواجه بابو خان ته وروپېژندل شوی ؤ «هغه مهال چې د سقاؤ زوی د ډیورنډ له کرښې واوښت د انګریزانو له استخباراتو سره یې اړیکې درلودلې او هلته یې له خواجه بابو خان چې د انګریزانو له استخباراتو (سي، ای، ډي ؟) سره یې کار کولو لیدنه وکړه...».[12]

کله چې سقاؤ له بنده آزاد شو نو د انګرېز استخباراتو لخوا د لارې په اوږدو کې د څو تنو ملایانو په لمسون د امان الله خان پر خلاف وهڅول شو او د وسلو او پیسو مرسته ورسره وشوه، هغه مهال چې سقاؤ له پېښوره د کوهدامن پر لور رهي ؤ نو له پېښوره تر خیلې سیمي او وروسته له هغې هغه حالات چې سقاؤ ورسره مخ شوی ؤ، حاضرو کسانو ته داسې واورول:«د بیرته راتلو پر مهال د بتیکوټ کلي ته ورسیدم د جمعې ورځ وه جوماټ ته ولاړم چې یوه ملا د منبر څخه د کفر پر وړاندې د جهاد وعظ کاوه، کله چې د ده خبرې خلاصې شوې نو زه ورغلم او له ده څخه د خیر د دعا غوښتونکی شوم، ملا دعا راته وکړه ویې ویل:«کله چې له جوماته ووځې نو د لارې پر سر به یوه ونه ووینې، د هغې ونې لاندې ځمکه وکینده، هر څه دې چې ومومل له ځان سره یې واخله.»
د سقاؤ زوی زیاته کړه چې ما په بیړې سره هغه کار وکړ چې څلور ټوپک، کارتوس او یو زر نغدې روپۍ مې ترلاسه کړې او له ځان سره مې واخیستې، کله چې له لغمان څخه د کوهدامن پر لوري روان وم، په لاره کې بیا له یو ملا سره مخ شوم او د امان الله پر وړاندې یې د جهاد امر راته وکړ. د پغمان د جشن په ورځو کې هغه ورځ چې امان الله د پغمان د ننه په تیاتر کې ؤ، بیا د یو بل ملا سره مخ شوم چې ماته یې د اسلام د دین پر بنسټ حکم وکړ چې امان الله ووژنم خو د دې لپاره چې د مسلمانانو جشن خراب نه شي دا کار مې ونه کړ، کله چې کوهدامن ته وګرځیدم یو بل ملا ته ولیدم چې د پغمان ملا سپارښتنه یې تکرار کړه، بیا زه تګاب ته ولاړم چې غلام محمد خان د تګاب فرقه مشر ؤ، د تګاب اخونزاده صاحب (ملا حمید الله خان) ورو‌غوښتم او د امان الله خان د وژلو لپاره یې لاره راوښودله او ځینې د پروان خانان یې زما د مرستې په خاطر راوغوښتل، ما هم د هغه [امان الله خان] د راغورځولو هوډ وکړ او په کابل باندې مې برید پیل کړ.»[13]
سقاؤ پورته مالومات هغه مهال حاضرینو ته اورول چې هغه په کابل کې واک ته رسیدلی ؤ.

---

9: بازنگری دورۀ امانی و توطیۀ های انگلیس. ۳۶۷مخ.
10: هماغه کتاب. ۳۶۸مخ.
11: هماغه کتاب. ۳۶۸مخ.

12: افغانستان در مسیر تاریخ. ۸۱۶مخ.
13: افغانستان در مسیر تاریخ. ۸۱۶مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په لاره کي د سقاو زوی د موړال د لوړولو په موخه د خيبر په دره، د سليمان په سرای کي يوه ملا يو تعويذ هم ورکړی ؤ چي په هغه کي ليکل شوي وو:«خير دی چي له قانوني کسانو سره دې بې رحمانه رويه کړي ده، د خدای نظر به پر تا باندې وي» هغه تعويذ د نظر بندی تعويذ ؤ.[14]
سيد مهدي ليکي چي د قضيي حقيقت دا دی چي وروسته له هغې چي د سقو زوی له پيښوره راستون شو، د هند د حکومت لخوا وسله وال او ځواکمن شو او شينوارو ته د کلنل لورنس (لارنس) له راتګ وروسته، د سقو زوی هم په دې برخه کي خپل رول او هڅه پيل کړه... او د هند حکومت د مشرقي د انقلاب پر مهال د سقو زوی وهڅاوه چي جګړه پيل کړي... له بلې خوا د انقلاب اداره کوونکو د سقو زوی ته لارښوونه کوله او له هر اړه يې هغه ځواکمن او وسله واله کړی ؤ.[15]

سقاؤ د انګرېزانو تر څارني لاندې ؤ، د لېندی په مياشت کي چي سقاؤ له حکومت سره په قرآن، (د قرآن په پاڼو) تړون لاس‌ليک کړ او ژمنه يې وکړه چي د حکومت پروړاندي به مخالفت نه کوي او له حکومت سره به مرسته کوي.[16] په کابل کي انګرېز سفير په يو تلګرام کي وليکل:«د افغانستان حکومت د سقاؤ زوی پيرودلي دی، هغه ژمنه کړي ده چي تر شپږو مياشتو پورې به د حکومت پر وړاندي له بريدونو او مزاحمتونو لاس اخلي.»[17]
له سقاؤ سره د حکومت له تړون وروسته چي له امله يې سقاؤ ته د حکومت لخوا وسلي او مهمات ورکړای شوي وو، سقاؤ خپله قرآني ژمنه ماته کړه او د لېندۍ پر ۲۱مه نېټه يې د کابل په شمال کي پر سرای خواجه باندې چي هلته يوه کوچنۍ پوځي قطعه ځای پرځای وه بريد وکړ.[18]
لږ وروسته سقاؤيانو پر کابل بريد وکړ، د ياغيانو لخوا د باغ بالا کلا د نيولو او له سقاؤ سره د انګرېز سفير سر فرانسيس همفريز خبرو په هکله يې «ميرمن همفريز د [۱۹۲۸ز، کال] دسمبر په ۱۴مه نېټه په خپل يادښت کي داسي وليکل:«موږ ټول د باندې ودريدو او د کلا د نيولو ننداره مو وکړه چي کړار، کړار په مخ تلل... ما وليدل چي [يوه ډله] زموږ د دروازې خوا ته راشيوه شوه، ما منده کړه چي وزير [همفريز] پيدا کړم او د هغه آواز مي له برنډې واوريد ويې ويل:(دروازه بنده کړه.)... او دا پاريدلې ډله زموږ دروازې ته نږدې شوې وه، مختار وزير د باندې ووت چي ورسره مخامخ شي. د سقاؤ زوی په خپله د بريتانيي د نمايندګۍ دروازې ته نږدې شوی ؤ، هغه له همفريز سره په قار سره خبرې وکړې، ورته يې وويل چي امان الله پاچا کافر دی زه غواړم هغه ووژنم او اداره په خپل لاس کي ونيسم.
ميرمن همفريز زياتوي چي همفريز د سقاؤ زوی ته عيناً هغسي خبرې وکړې چي شينوارو ته د بريتانيي قونسل په جلال آباد کي کړي وې: دا د بريتانيي نمايندګي ده، موږ ستاسو ميلمانه يو.
د سقاؤ زوی ځواب، د شينوارو له ځواب سره توپير درلود.
**هغه وويل:«زه له تاسو سره جنګ نه کوم.»**
**همفريز د سقاؤ زوی ته وويل چي ته بايد د ټولو بهرنيو نمايندګيو احترام وکړې او د سقاؤ زوی دا امر خپلو نفرو ته ابلاغ کړ. هغه خپل نفر له لوټ کولو منع کړل.**
**د سقاؤ زوی په داسي حال کي چي يو محافظ ګارډ يې د نمايندګۍ له دروازې سره پرېښود، له خپلو نفرو سره په شور او زوږ سره د کابل پر لور روان شو... .**[19]
روسي مورخ ډاکټر ويکتور ګريګوويچ کارګون ليکي کله چي سقاؤ کابل ته ننوت، په کابل کي د انګريزانو سفارت ته ورغلو او ډاډ يې ورکړ چي د انګريزانو سفارت ساتنه به کوي، دا ليدنه د لمر په شان ښکاره ده.[20]
د سقاؤ زوی له حکومت سره له ستر منافقته کار واخيست، داسي منافقت چي پر قرآن کريم يې لوړه کړي وه چي د حکومت پر پلوی به له شينوارو سره جګړې ته درومي، هغه ورځ چي د سقاؤ غلو د کابل پر ښار بريد وکړ خلک په دې فکر کي وو چي سقاويان د حکومت پرپلوی راروان دی، عيني شاهد د حبيبي لېسي يو تن ښکالي استاد، سيد مجتبی علي چي پر کابل باندې د سقاؤ لومړی بريد يې له نږدې ليدلی خپل د سترګو ليدلی حال داسي ليکي:«بچه سقاؤ د جګړپوړو افغان چاروواکو په حضور کي پر قرآن لاس ښېښود، لوړه يې وکړه چي د شينوارو پر خلاف به د امان الله خان ملاتړ

---

**14:** اور په افغانستان کي ۵۳۱مخ.
**15:** تاريخ سياسي افغانستان: ۴۸۹-۴۸۸مخونه.
**16:** هماغه کتاب. ۴۸۹مخ.
**17:** بازنگری دورهٔ امانی و توطیهٔ های انگلیس. ۳۶۸مخ.
**18:** مير غلام محی الدين انيس: بحران و نجات. ۸۷مخ.
**19:** اور په افغانستان کي. ۵۵۸-۵۵۷مخونه.
**20:** افغانستان در سالهای بيست و سي، قرن بيستم ميلادي.۷۲مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

کوي. سل ټوپک یې تر ګوتو کړل، بیا ورک شو، بچه سقاؤ اوس دغه ټوپک ببرته په امان الله خان پسې رااخیستي دي.»[21]
نوموړی استاد زیاتوي:«مازدیګر څلور بجې وې ... په بازار کې قیامت جوړ شوی ؤ، دوکانداران په بېړه خپل دوکانونه بندول، شور او زوږ جوړ ؤ، خلکو هرې خوا ته منډې وهلې او چیغې یې وهلې:«ماما، کاکا ژر راځه!، وه وروره چېرته یې!؟» ګاډیو د خلکو په ګڼه ګونه کې منډې وهلې، لږ څه پاتې وو چې خلک د اسونو تر پښو لاندې شي، په خپلو سترګو مې یوه ګاډۍ ولیده چې بې کنترولې شوه او د کابل د سیند واورو ته ولوېده خو هېڅا هم پام پسې ونه کړ.
په دغه شور او زوږ کې چیغې اورېدل کېدې:«بچه سقاؤ راځي، بچه سقاؤ رارسیدلی دی.» بیا مو د ټوپکو غږونه واورېدل خلکو اعصاب له لاسه ورکړل، په لاسونو کې چې هر څه ورسره وو ویې غورځول، خلکو د خپل ژوند د ژغورلو لپاره منډې وهلې، ځیني د سرک غاړې ته په لښتیو کې پټ شول، کابل سیند کنګل شوی ؤ، ځیني [د سیند] هغې بلې غاړې ته پورې وتل ، وبه ښوییدل، بېرته به راپورته شول، د سرک غاړې ته یو ړوند سوالګر ناست ؤ راولاړ شو، لاسونه یې په هوا کې وهل خپله لاره یې پیدا کوله.
ځان مې په یو ډول له سرکه څنډې ته کړ له کندې تېر شوم د یوه دوکان د برنډې مخې ته ودرېدم، له ځان سره مې وویل چې کومه مرمۍ مې په تقدیر کې لیکل شوې وي پرې وبه لګېږم، کېدای شي له هغې مړ نه شم خو په دغه ګڼه ګونه کې خامخا د خلکو او اسونو تر پښو لاندې کېږم.
یوه ګړۍ لا تېره نه وه چې یو بل سړی راغی څنګ ته مې ودرېد، دی یو ایټالوی ډګروال ؤ، ګڼه اوږده ږیره یې وه، شاوخوا د شپیتو کالو به ؤ، دی لومړی کس ؤ چې ډاډه مې تری پوښتنه کولای شوه. ورته ومې ویل: اورېدلي مې دي چې د شوکمارو او غلو رییس بچه سقاؤ د امان الله په پلوی جګړې لپاره راځي خو دا اوس څه روان دي؟
ډګروال وویل: «غلط پوه شوی یې، بچه سقاؤ د ښار د نیولو لپاره راروان دی.»[22]
د همدې کال د لیندی په میاشت کې انګرېزي اجنټانو په کابل کې د امان الله خان د حکومت پر خلاف او د سقاؤ زوی په ګټه خپل تبلیغات لا توند کړل، په کابل کې، «یو شمېر وزیرو او احمدزیو چې د امان الله په پلوی کابل ته راغلي وو او د دولت په پلوی یې جګړه کوله، یو ځل خپلې څوکۍ د انقلاب د موسسینو [انګرېزي اجنټانو] د تبلیغاتو له امله پرېښودلې او وتښتیدل.»[23]

د دې لپاره چې انګرېزان د سقاؤ په بغاوت کې ځان بې پرې ښکاره کړي، د کابل په ښار کې یې د سقاؤ د لومړي برید پر مهال یوه بې ضرورته اعلامیه خپره کړه چې په کې لیکل شوي وو:«د انګلستان دولت د افغانستان په انقلاب کې مداخله نه کوي خو که چېرې زموږ پر سفارت او تجارتي قونسولګریو برید وشي نو د انګلیس دولت به سخت غچ واخلي.»
مهدي فرخ زیاتوي چې انګرېزانو دا ډول اعلامیې ته اړتیا نه درلوده، ځکه چې د انقلاب اساس د هند د حکومت لخوا کېښودل شوی او اداره کیده چې د انګرېزانو پر سفارت او قونسلګریو باندې چا [یاغیانو] برید ونه کړ.[24]

په دې هکله میر غلام محمد غبار لیکي:«په داسې حال کې چې په کابل کې د سقاؤ سره جګړه روانه وه، د انګریزانو الوتکې، بې له اجازې د افغانستان فضاً ته ننوتې او د کابل په ښار باندې یې پاڼې وغورځولې، په پاڼو کې اخطار ورکړ شوی ؤ چې په کابل کې زموږ پر سفارت او قونسلګریو بریدونه ونه شي... .»[25]

دا مهال چې د کابل په ښار کې د سقاویانو او حکومت ترمنځ جګړه روانه وه، انګرېزانو د دې لپاره چې د حکومتي ځواکونو او کابل ښاریانو مورال کمزوری او د یاغیانو مورال لوړ شي، یو شیطاني عمل دا وکړ چې د بهرنیو سفارتونو کارکوونکي او د هغوی کورنۍ، پرته له دې چې له کوم خطر سره مخ وي، خپلې الوتکې یې کابل ته ولېږلې، د خپل سفارت او څو نورو سفارتونو په له پنځو سوو زیات وګړي یې له کابله پېښور ته یوړل. «د مرغومي پر ۲یمه نېټه د انګرېزانو الوتکې کابل ته راورسیدې، ښځې او ماشومان یې له کابله هندوستان ته ورسول او په کابل کې یې نورو

---

[21]: سید مجتبی علي: په یو بل وطن کې. ژباړن: نورالحق حیدر. ۲۴۸مخ.

[22]: په یو بل وطن کې. ژباړن: نورالحق حیدر. ۲۴۶-۲۴۵مخونه.
[23]: تاریخ سیاسي افغانستان. ۴۹۲مخ.
[24]: هماغه کتاب. ۴۹۲مخ.
[25]: افغانستان در مسیر تاریخ ص ۸۲۳مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیز بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

سفارتونو ته هم وويل چي که غواړي خپلي ميرمني او ماشومان له کابله وباسي نو دوی به مرسته وکړي، هغه وو چي ډېرو سفيرانو خپلي کورنی له کابله پېښور ته د انګرېزانو په الوتکو کي ولېږلي.[26]

د سقاؤ زوی د لېندی په ۲۴مه نېټه د شېرپور په غونډی کي له دولتي ځواکونو سره په جګړه کي ټپي شو.[27] نو د انګرېزانو د سفارت يو جراح ډاکټر د هغه درملنه وکړه. «انګرېز سفير د ۱۹۲۸ز، کال د دسمبر په ۲۶مي نېټي په تلګرام کي د حبيب الله کلکاني، په ښي مټ د ژوبليدو او پغمان ته د شاتګ خبر ورکړ.»[28]

د سقاؤ د ژوبليدو په اړه ليکواله ريه تالي د هغه ټپ د ملا په تير کي يادوي او وايي چي د سقاؤ درملنه په پغمان کي د يو انګرېز ډاکټر لخوا ترسره شوه. «د سقاؤ زوی په مردکي/ مرمی باندي د ملا په تير لګيدلی ؤ چي سخت ټپي شوی ؤ هغه د خپلو خلکو له خوا پغمان ته د امان د اوړي د موسم شخصي کور ته يوړل شو.
داسي يوه ورځ به راشي چي د سقاؤ زوی به د بريتانيي د نمايندګی د جراح په باره کي يوه کيسه‌ګی ووايي چي د هغه د ټپ د علاج لپاره تللی ؤ، دا کيسه به د افغانستان په افسانو کي ځای ونيسي او داسي يو مثال به وګرځي چي بريتانويانو په قصد سره د سقاؤ زوی د امان الله په لاره کي اچاوه.»[29]
داسي ښکاري چي د سقاؤ درملنه په لومړيو ورځو کي د انګرېزانو د سفارت په روغتون[30] چي د اوسني کارته پروان په سيمه کي نوی ودان شوی وو، ترسره شوي وي، هغه انګرېزۍ رنځورپالي (نرسي) چي د هغه په درملنه لګيا وې، سقاؤ چي يو رښتينی ساده او ناپوه کس ؤ، د خپل حماقت له امله يې فکر کاوه هغه رنځورپالي چي سپين کالي يې اغوستي وو ملايکي دي، سقاؤ، استاد خليل الله خليلي چي د امان الله خان دښمن او د سقاؤ خواخوږی ؤ، په دي هکله يې هغه ته ويلي وو:**«زما درملنه هغو ملايکو ترسره کړه چي سپيني جامي يې په تن وې، ډېر کوښښ مي وکړ چي د هغوی په ژبه پوه شم خو پوه نه شوم.»**[31]
د تاريخي علومو ډاکټر ويکتور ګريګوويچ کارګون هم په دي نظر دی چي کله سقاؤ په جګړه کي ټپي شو د انګريزانو په سفارت کي يې درملنه هم وشوه.[32]
استاد سيد مجتبی علي ليکي چي«ټول افغانستان ته مالومه وه چي پوره څلور ورځي سفارت او سر فرانسيس [همفريز] د بچه‌سقاؤ په رحمت کي وو، بچه‌سقاؤ په سفارت کي قتل عام کولای شو، که يوه ګړی يې پام بلي خوا ته کړی وای، نو وريو ملګرو يې په څو شيبو کي ټول سفارت لوټلای شو، د سقاؤ زوی د دوی ژوند بچ کړی ؤ.»[33]
انګرېز سفارت او سقاؤيانو يو تربله مرستي کولي، دا مهال چي جګړه روانه وه، «د سقاؤ زوی د بريتانيي نمايندګي بيا له مشکلاتو وژغورله، هغه خپل يو نفر د نمايندګي له يو اردلي سره چي پيغامونه ورسره وو، د تګلراف دفتر ته واستاوه او دا د قضيي پيچلی حالت ؤ چي د شورشيانو د ليډر له خوا يو تن له اردلي سره ملګری شو او هغه يې داسي يوې اداړې ته بوت چي د هغه اداره د امان الله د حکومت په لاس کي وه.[34] «سقاؤ د دسمبر په ۲۱مه نېټه د بريتانيي نمايندګی ته يو پيغام واستاوه او داسي ښکاريده چي چاړې يې تر خپلي حمايي لاندي نيولي دی، په دي مانا چي هېڅوک دي په هغه ورځ باندي له ساحي څخه ونه وځي.»[35]
دا مهال چي د انګرېزانو سفارت ته څېرمه جګړه روانه وه، نوموړی سفارت د سقاؤيانو او دولتي ځواکونو تر منځ په جګړه کي تر ډېرو لاندي راوستل شو، په اړه يې صفيه ليکي چي په ۱۹۲۹ م، کي د امير امان الله خان خلاف بغاوت کي د پوځ مخالفو ډلو په يو بل ډزي کولي، برطانوي سفارت په منځ کي ؤ او ګولی به په کي پريوتي، په ۱۹ دسمبر يو چا د سفارت پوځي اتاشي استوګنځي ته اور واچاو، د سفارت ټول کارکوونکي په مرکزي ودانی کي راټول وو، ميرمن

---

**26:** سيد مهدي فرخ: تاريخ سياسي افغانستان. ۴۹۲مخ | مير غلام محی الدين انيس: بحران ونجات. ۸۸مخ | ميرغلام محمد، غبار؛ افغانستان در مسير تاريخ.۸۲۳مخ.
**27:** تاريخ سياسي افغانستان. ۴۹۰مخ.
**28:** بازنګرى دورهٔ امانى و توطيهٔ هاى انګليس. ۳۶۹مخ.
**29:** اور په افغانستان کي. ۵۶۹مخ.
**30:** د انګرېزانو سفارت د باغ بالا لاندي په کارته پروان کي د پاکستان اوسنی سفارت وداني چي په ۱۹۲۴ز، کالي د جوړولو کار پيل او په ۱۹۲۸ز، کي يې کار پای ته ورسيد.
**31:** افغان جرمن آنلاين: د احسان لمر له ليکني څخه.
**32:** افغانستان در سالهاى بيست و سي، قرن بيستم ميلادي. ۷۲مخ.
**33:** په يو بل وطن کي. ژباړن: نورالحق حيدر.۲۷۰مخ.
**34:** اور په افغانستان کي. ۵۶۰مخ.
**35:** هماغه کتاب. ۵۷۱مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

همفریز پخپلو یادښتونو کې لیکي، «د سکواش په لوبغالي کې ګولي پریوتې- ۳ ګولۍ زمونږ د خوب په کوټه کې، ۳ زما کټ سره، ۳ په غسل خانه کې، یو ګولۍ د وزیر [سفیر] نه ۶ انچه لیرې تېره شوه.» سفارت پیښور ته د مرستې غږ وکړ او هلته نه د الوتکو د لیږلو تابیا وشوه.[36]



په کابل کې د انګرېزانو سفارت. دا انځورونه د صفیه حلیم له لیکنې (د کابل سفر څخه اخیستل شوي دي

نېټه:۱۴۰۲/۶/۱۸ل. ل

**نور بیا**

[36]: د کابل سفارت، د صفیه حلیم لیکنه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ